مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۰۹/۲۲

مابنامی مجلس

(۲۱)



میلمه مخ راواړو: ته وګوره که کور کې دې وچه میوه پاتې وي، په تش چای خو دې نورې کولمې راشنې کړې!

و مې خندل او بیا مې ویل: خدای دې خوار نه کا، پس له دې چې د اختر په ورځ هم وچه میوه در ورسیږي شکر وکاږه. هغه پخوانی متل بیا را تازه شوی: هر روز عید نیست که کلچه بخوري!

غلی شو. له چایه یې ګوټ وکړ او بیا یې ویل:

د لوړو زده کړو وزارت د نوي تصمیم په اړه څه وایې؟

ـ هههه. دا زه درته د وزارت مشاور ښکارم. زه څه حق لرم چې په تصمیمونو نظر ورکړم؟ چې هر څه کوي، ښه یې کوي. علمای کرام دي، اکثریت یې د هغه معتبرې مدرسې فارغان دي، موږ به صرف ورګورو.

ـ هدف مې کابل کې له یوه تعلیمي مرکز څخه د استاد رباني نوم لرې کول و چې دا ښه وشول او که بد؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ دا تعلیمي مرکز هماغه مرحوم جوړ کړی و؟

ـ نه یاره، هغه او مرکز جوړول. د هغه دوره خو په بربادولو تېره شوه او بل دا چې دا مرکز د هغه له واکمنۍ ډېر پخوا جوړ شوی و.

ـ نو په کوم ارتباط یې پرې دا نوم ور سریښ کړی و؟

ـ فقط د هغه د ډلې د خوشالولو لپاره، نور یې هیڅ رابطه نه وه.

فکر کې لاړم او بیا مې ویل :که څوک نه خپه کیږي نو ښه کار وشو. له دې ښه کار به لا دا و چې مخکې پرې هیڅ دا نوم نه وای تپل شوی. څومره بده ده چې له همدې یوه مرکزه چې پخوا څوک فارغ شوي و، د هغوی دپلومونو کې یو نوم و او وروسته بیا بل نوم شو. ټول سندونه یې ګډوډ کړل.

دغه شان کارونه چې هرچا کړي، دوام یې نه دی کړی. وګورئ؛ یو وخت د خلقیانو په دور کې د انقلابي ملګرو زړه و چې جلال اباد ته د ترون ښار نوم غوره کړي، خو هیچا ونه منه. که څه هم ترون پښتون و او د دې خاوري و؛ خو د مُغلي جلال (جلال الدین اکبر) نوم ځکه ترې میدان وګټه او دا ښار په همدې نوم پاتې شو، چې ښار د همده په وخت کې (۱۵۶۰ع) جوړ شوی و.

د نوم انتخاب که منطقي تړاو ولري، جاودان کیږي او که په زوره وتپل شي نو لکه په وچ دیوال چې سمنټ تپې، د موسم په معمولي تغیر سره بیرته ترې را دوړیږي.

ـ څه فکر کوې، دا خو به تعصب ونه ګڼل شي؟

ـ تعصب؟ د څه شي تعصب؟ تعصب خو هغه وخت وشو چې د همدې علمي مرکز نوم بدل شو. تعصب به هغه وخت و چې دوی اوس د رباني په ځای د خپل کوم انډیوال په نوم کړی وای. دا خو یې بیرته په اصلي نوم کړ. لکه یو کور چې چا غصب کړی وي او څو کاله وروسته یې بیرته اصلي مالک ته ور وسپارل شي؛ نو دا تعصب ګڼې؟ بله خبره دا چې اړتیا څه وه؟ ګوره، د ده زوی صلاح الدین خان کابل ښار کې د باغ بالا پر سړک خپل ګوند (جمعیت) ته ښایسته لوړ پوړیزه ودانۍ جوړه کړه، په همدې به یې د خپل محترم پلار نوم ایښی و. یوه زحمتکشه لور یې د (کشمش) په نوم رستورانټ لري، په هغه به یې دا نوم ایښی و. خپله استاد، زوی یې، د استاد مخکښه قوماندانانو او د تنظیم مهمو غړو یې په تېرو شلو کلونو کې پریمانه پیسې جمع کړې، د همدې پیسو په یوه وړه فیصدي به یې په کابل، یا کوم محروم ولایت کې لږ تر لږه یو پول، سړک، ښوونځی او یا روغتون جوړ کړی و بیا به یې د رباني نوم پرې ایښې و، هم به صدقه یې جاریه وه، هم به یې نوم دوام کړی و.

ـ هههه. د تا لکه چې له دې خلکو سره سمه ورانه ده!

ـ نه، استغفر الله، داسې هیڅ خبره نشته. انډیواله! زه د استاد رباني علمیت ته ډېر احترام لرم که څه هم له پوهې یې آن خپلې واکمنۍ کې وطن او خلکو ته خیر و نه رسیده. مني؟ چې خبر شوم له کابل هوایي ډګره د حامد کرزي نوم لري شوی، هم خوښ شوم. زما ورانه له هغوی سره ده چې په نومونو کودتاه کوي. زه له کودتاه سره وران یم، ځکه همدې کودتاه زموږ د ملک تنابونه داسې وجړقول چې اوس هیڅ ځای ته نه راځي. لکه مخکې چې مې وویل: که چیرې دا بنسټونه دوی جوړ کړي وای، اول ځل د دوی په نوم یاد شوي وای نو که اوس چا بدلول ورسره مخالفت مې کاوه.

ـ میلمه تریخ چای داسې تېر کړ، لکه د ملاریا ګولۍ چې خوري او بیا یې ویل: دا ستا شخصي نظر دی، که د خلکو؟

ـ که څه هم د ټولو خلکو نماینده ګې نشم کولای؛ خو د ډیرو به همدا نظر وي. ځکه زموږ خلک د نومونو په حساب ډېر حساس او با انصافه دي. د بېلګې په توګه: کابل ښار کې شاه دوه شمشیرې زیارت ته نږدې، پر کابل سیند له ډبرو جوړ پول دی. د پول ارتل په نوم یادیږي دا اصلا پول هارتن دی. د خلکو هدف هم، همدا دی؛ خو تلفظ یې ځانته اسانه کړی .دا سړی) والتر هارتن (Walter Harten نه مسلمان و او نه افغان. جرمنی انجینیر و؛ خو چې دا پول یې ډیزاین او جوړ کړ، نو غازي امان الله خان د همده په نوم و نوموه او دا دی آن له (۱۹۲۸) کال راهیسې یې خلک په همدې نوم یادوي او هیڅ تعصب ورسره نه لري. په هیڅ نظام کې تغییر نشو .زموږ خلک احسان فراموشه نه دي؛ خو چې احسان ور سره وشي.غوږ شه، بل نکل درته وکړم:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کابل – مزار په لاره یوه سیمه د قبر کلینر په نوم یادیږي. پخوا موټر کمزوري وو، ځیني وخت به پیچومي کې بیرته شاته راتلل. نو کلینر بیچاره به په منډه ورته یو لرګی کیښود. دا غټ لرګی یې ډنډه پنج باله او موټر کې به یې ځان سره ګرځاوه. د دې کلینر له سورلیو ډک سرویس موټر هم شاته راغلی و. ډنډه پنج یې ورته ایښی و؛ خو کار یې نه و کړی. د دې لپاره چې موټر ګړنګ ته خطا نشي او سورلی تباه نشي، ځوان کلینر ورته خپله اوږه ورکړه، ځان یې قربان کړ؛ خو سورلی یې وژغورله.د همدې قربانۍ په برکت اوس ټول خلک هغه سیمه د قبر کلینر په نوم یادوي او دعا ورته کوي .

میلمه ساعت ته وکتل: والله چې سم خواړه ونخورې، سړی ژر وږی کیږي. وږی شوم، که اجازت دې وي لاړ به شم.

زه چې پر خپل دسترخوان ډاډه نه وم، ځان مې غلی کړ او ست مې ونکړ.

میلمه پورته شو، یو ګام یې واخیست، بیرته ودرید: رښتیا مخکې دې د کوم رستورانټ نوم یاد کړ؟

ـ کشمش رستورانټ.

ـ له جیبه یې د جمعیت کارت راوویست: ما خو هم د دې تنظیم غړیتوب درلود؛ منډې رامنډې مې ورسره وهلې. د ښار کوم ځای کې دی چې دا خپلې سپیرې کولمې پکې غوړې کړم؟

ـ هههه... ساده ګله! هغه په عرب متحده اماراتو کې دی. دا مشران جګړې خپل وطن ته راوړي او ګټې نورو هیوادونو ته .های، های، که مجاهدین داسې د خپلو رهبرانو په پانګو کې شریک وای، ولې به یې مخونه دومره سپیره وو. ولې به یې بچې خواروزار و، ولې به یې... ته دې خپل وږي بچې د رهبر له نازولو سره پرتله کړه!

ـ بس، بس، زموږ رهبرانو پسې به څه نه وایې!

ـ سمه ده. خو ګوره؛ که کشمش رستورانټ کې یې پریښودې، بیا ما هم خبر کړه.

د رستورانټ د نوم په اوریدلو یې په ګیډه داسې لاس واهه، لکه وږو کولمو ته چې مساژ ورکوي او د خپلې ولږې غریزه مړه کوي. ګرز شو، دروازه یې پوره کړه او له سترګو پناه شو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ